# ستاسو څخه د یو چا په زړه کې ایمان داسې کمزوری کیږي لکه څرنګه چې جامې - په اغوستلو سره - زړیږي، نو له الله تعالی څخه وغواړئ چې ایمان مو په زړونو کې تازه کړي

له عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه څخه روایت دی وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: «ستاسو څخه د یو چا په زړه کې ایمان داسې کمزوری کیږي لکه څرنګه چې جامې - په اغوستلو سره - زړیږي، نو له الله تعالی څخه وغواړئ چې ایمان مو په زړونو کې تازه کړي».
[صحیح دی] [الحاکم او الطبراني روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر ورکوي چې ایمان د مسلمان په زړه کې داسې زړیږي او کمزوری کیږي، لکه څرنګه چې نوي جامې په زیاتو کارولو سره له منځه ځي؛ دا په عباداتو کې د نقصان، یا ګناهونو له امله او یا هم په شهوتونو کې د ښکیلتیا له امله. نو رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ته لارښوونه وکړه چې له الله تعالی څخه وغواړو چې ایمانونه مو د فرائضو په ادا کولو ، زیات ذکر او زیات استغفار ویلو سره تازه کړي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65020

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee